نجیب منلی

۲۰۲۱/۱۰/۲۷

# تاریخ

زه د زرګونو کالو

عمر خوړلی، نړېدلی دېوال

زما په خاورو چارچاپېره خندقونه ډک شول

څه خو لا خلکو دې نیږدې کلیو ته

یوړلې، خښتې یې کړې

ترې یې کورونه جوړ کړل.

زه نړېدلی دېوال

اوس مې پر سر د زماني د کاروان

تر پښو لاندې پلنې لارې جوړې.

****

ته برجوره کلا،

که نوې نه یې لا دې

له ډېرو لېرو سیمو

د دنګو، دنګو دېوالونو څوکې

هکې، حیرانې سترګې ځان ته بولي.

ستا تیرکښونه لا اوس هم له ګواښه ډک ښکارېږي.

****

پر دغې شارې، هېرې شوې ځمکې

زه او ته یو ځای اوسو.

دا لا هم شونې ګڼه

چې زما، ستا غېږو کې


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

چې ماشومان ستر شوي

سبا زموږ له خاورو

هلته کوم لېرې ځای کې

د سبا ښلي جوړ کړي.

****



برای مطالب دیگر نجیب منلی روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com